## د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په پام کې لري چې دافغانستان بانک نمایندگیو د کابل گمرک او د کابل نړیوال هوایي ډگر گمرک لپاره د احاطې دېوال جوړولو پروژې د تشخیصیه شمیري DAB/1405/NCB/W03 لرونکې ده، د شهاب بریا ودانیز او سړک جوړونی شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (94700) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې پل خشتي موبایل سنټر، کابل مرکز کې دی د تړون ټولیزه بیه (2,096,310) دوه میلیونه شپږ نوي زره درې سوه او لس افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر پنځه تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.